بېشکه (شرکي) دمونه، بندونه او تعويذونه (يا کوډې کول) شرک دی

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمايل يې: «بېشکه (شرکي) دمونه، بندونه او تعويذونه (يا کوډې کول) شرک دی».

[صحيح دی] [ابو داود ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه کارونه بيان کړل چې کول يې له شرک څخه دي؛ لکه: اول: رقيه: (دم کول) هغه وينا چې شرکي الفاظ به يې لرل او د جاهليت د زمانې خلکو به پرې د شفاء غوښتنه کوله. دويم: تعويذونه له: (مريو، کونجکو، هډوکو او داسې نورو شيانو څخه) چې ماشومانو، څارويو او نورو پورې تړل کيږي تر څو له نظره نشي. دريم: (بند، کونجکه) هغه چې پدې موخه جوړيږي تر څو د ښځې او خاوند تر منځ مينه پيدا شي. نو دا کارونه له شرک څخه دي؛ ځکه چې دا له يو شي نه سبب جوړول دي، حال دا چې دا خو نه شرعي سبب دی چې په دليل ثابت شوی وي او نه حسي سبب دی چې په تجربې سره ثابت شوی وي. او کوم چې شرعي اسباب دي لکه: د قرآن کريم لوستل، يا حسي اسباب دي لکه: درمل (دوا) چې په حسي تجربې ثابته شوې ده، نو دا جايز دي، خو بايد دا عقيده وساتل شي چې دا يوازې سبب دی، او دا چې ګټه او ضرر يوازې د الله په لاس کې دي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5273